انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۳/۲۰

# د پسرلی نه هیله!!

ماته وینـــی مه راوړه، ګلان غـواړم
ستړی له شیطان یمـه، انسان غواړم

ما بانـدی ړلـی ورول، بس کړه نور
شین چی دا چمن کاندی، باران غواړم

درد چی رانه کم کړی، پسرلیه ! نو
هسی جوړ له مینی، دا جهان غواړم

وی چی مهربان، لکه پـه نـور عالم
هغسی په سر ولاړ، آسمان غـواړم

اورچی د بل کلی راوړی، زما کورته
داسی پسـرلـیو نـه، امــان غـواړم

وږې مــی اروا ده، د نغمـــو وږی

خانګو د چنار کی، بلبـلان غواړم

ما د بیلتـانـه لـه تنـدر، وژغـوره

زه می څنګ کی ورورغواړم، جانان غواړم

بیا چی د سوما شربت، شریک وڅښی

دی کلی کی هغه زوړ، افغان غواړم

بیا چـی کلیـوال د کلـی، ویـښ کاندی

یا هــغـه آذان یا بل، تــکان غــواړم

تورنتو ـ کاناډا